مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۲/۱۲/۲۴

# دا تیارې به رڼا کیږي

دغه بڼ به زرغونیږي ما په خوب کي دی لیدلی
دا سل ځله رژېدلی خزانونو آزمیيلی
په ویاله کي چي اوبه وي یو ځل تللي بیا بهیږي
له دې شاړو وچو مځکو بیا غاټول را زرغونیږي
شپې که هر څومره اوږدې وي عاقبت به لمر ځلیږي
بیا به سپل د شوپرکو له رڼا وي تورېدلی
دغه بڼ به زرغونیږي ما په خوب کي دی لیدلی
د پردي ملا په خوله به خلک نه سي غولېدلای
په اذان به يې وګړي روژه نه سي ماتولای
په ماشومو يتیمانو به واسکټ نه سي منلای
د حلوا به وي محتاجه د خیرات کاسو روږلی
دغه بڼ به زرغونیږي ما په خوب کي دی لیدلی
یوه ورځ به داسي راسي چي به پیل سي  مکتبونه
مدرسي به وي تړلي ورلوېدلي وي قلفونه
نه ټګي د مولویانو نه بدمرغه واسکټونه
نه به چاته له پنجابه وي د جنګ امر راغلی
دغه بڼ به زرغونیږي ما په خوب کي دی لیدلی
یوه ورځ به داسي راسي مدرسه به پوهنتون وي
د ډېوي دښمن به ړوند وي د کتاب غلیم زبون وي
نه به ږغ د محتسب وي نه دُره نه به جنون وي
په خپل حکم به سنګسار وي خپل بادار ته شرمېدلی
دغه بڼ به زرغونیږي ما په خوب کي دی لیدلی
ماته تیري کیسي وایی دا خوبونه ریښتیا کیږي
د ظالم عمر به لنډ وي په خپل تبغ به حلالیږي
د پردیو خلوتونو په تیارو کي به ښخیږي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ما يې قبر دی ليدلی چې په کانړو وي ويشتلی
دغه بڼ به زرغونيږي ما په خوب کې دی ليدلی
يوه ورځ به داسي راسي چې شرنګيږي ربابونه
د زلميو توري ځني به تاوده کړي محفلونه
بيا به اورو له مطربه جهاني ستا غزلونه
ما يې فال دی پر اورغوي له ازل سره کتلی
دغه بڼ به زرغونيږي ما په خوب کې دی ليدلی.

د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر د مياشتي دوه ويشتمه ويرجينيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ